احمدشاه بابا او سندهـ

په (۱۱۶۰ هـ) کال چي نادر شاه افشار ووژل سو، او احمدشاه بابا ابدالي په کندهار کي په پاچهي منتخب سو، په دغو وختو کي د سند امير ميان نور محمد کلهوړه وو، چي د نادر افشار تر امر لاندي به يې حکمراني کوله.

احمدشاه بابا چي د خپل سلطنت په دوهم کال (۱۱۶۱ هـ) هند ته سفر وکی نو ده د ميان نور محمد امارت په سندهـ کي په رسميت ومانه او "شاه هواز خان" لقب يې ورکی، او په مقابل کي هم نورمحمد د هر کال ماليات رالېږل د کندهار دربار ته ومنل.

ميان نورمحمد وروسته د مالياتو په رالېږلو عمل و نه کی نو احمدشاه بابا ده ته يو فرمان واستاوه چي ژر د سند ماليات راولېږي کله چي دغه فرمان سند ته ورسېده، نو ميان نورمحمد خپل سفير بهايي خان کلهوړه د ډېرو تحفو سره د کندهار دربار ته راواستاوه، او لکه چي خايف سندهی چي په نامهٔ نغزکي وايي خپل اطاعت يې داسي څرګند کی :

سلامش رسانش بعجز و نیـاز
ای شاه افغان گردن فـــــــراز
منم بندهٔ تاجدار تـــــــــو ام
به فرمانبری نامدار تـــــــو ام
من از لطف تو چشم ارم بهـی
بر شاه من میکنم آگـــــــــهی

د دې سفارت په راتګ سره د کندهار د دربار روابط له سندهي اميرانو سره ښه سوه او له سنده څخه يو دايمي سفير او وکيل په کندهار او کابل کي مقرر سو، چي نوم يې شېخ محمد محفوظ سرخوش د شېخ محمد مريد قانونګر زوی وو.

سره د دې چي احمدشاه بابا د مالياتو د رالېږلو په تعهد قانع سو او د سندهی اميرانو داخلي آزادي يې تر افغاني سلطنت لاندي ومنله، مګر بل کال بيا هغه ماليات د کندهار دربار ته نه راورسېدل، نو احمدشاه بابا د سردار جهان خان سپه سالار په قيادت يو لښکر په (۱۱۶۶ هـ) کال سندهـ ته واستاوه او د دغه کال په پای کي پخپله هم هلته ولاړ، او د (۱۱۶۷ هـ) د محرمي پر څلورمه محمد آباد ته ورسېدی، د سندهـ دربار چي دغه خطر حس کی نو يې ژر خپل وزير ديوان ګدومل د احمدشاه بابا حضور ته د ايلچي په ډول راواستاوه او ميان نورمحمد هم بيا اطاعت وکی.

احمدشاه بابا ګدومل ته د ليدني اجازت ور نه کی، مګر ګدومل ډېر تحايف وړاندي کړل، او په دغو کي ځو بورۍ خاوري هم وې، چي ګدومل د سندهـ د اولياوو له قبرو څخه د احمدشاه بابا حضور ته سوغات راوړي وې، او ده ويل چي دا د سنده بهترينه تحفه ده.

احمدشاه هم دغه تحفه ومنله او ميان نورمحمد يې وباخښه، مګر دغه امير يوه مياشت وروسته مړ سو او پر ځای يې د احمدشاه بابا له حضوره څخه د ده زوی محمد مراداياب خان د "سربلند خان" په لقب هلته امير سو. او ځکه چي د سبۍ ولايت مستقيماً د احمدشاهي پايتخت کندهار سره نښتی وو نو ښکارپر هم په کندهار پوري رسماً ونښلول سو او هم له دغه وخته په ښکارپر کي افغاني حاکم مقرر سو، او ځکه چي دا ښار د سندهـ او

افغانستان تر منځ يو مهم تجارتي ځای وو نو د دغو دوو سيمو تجارتي روابط له دې لاري ډېر سول. او د احمدشاه بابا له خوا اسماعيل خان پني په سندهـ کي د دربار نماينده او قاضي محمد محفوظ د ټټې حاکم مقرر سول، او په (١١٧١ هـ) کال دېوان ګدومل د احمدشاهي فرمانه او ډېرو خلعتو سره له کندهار سند ته ولاړ او عطرخان د مراداياب خان ورور د يرغمل په ډول په احمدشاهي دربار کي وو، څو چي د سندهي اميرانو خانه جنګي شورو سوه او احمدشاه بابا عطرخان ور واستاوه او د بلوڅو او نورو مشرانو په نامه يې فرمانونه صادر کړل چي د عطر خان سره کومك وکي، مګر له دغو اميرانو څخه غلام شاه غالب سو او د سنده د سفير دېوان ګدومل په سعی احمدشاهي دربار هم ده ته د صعصام الدوله لقب ورکی، د (١١٧٧ هـ) کال د ربيع الثاني او جمادی الاولی په مياشتو کي دوه احمدشاهي فرمانونه د ده په نامه صادر سول.

ميان غلام شاه چي د احمدشاهي دربار د سندهـ په اميري رسماً پېژندل سوی وو د کچهـ پر خوايې نوري سيمي هم په خپل مملکت کي شاملي کړې او په سندهـ کې خپل اقتدار زيات کی، نو احمدشاه بابا ډېرهٔ غازي خان او ډېرهٔ اسماعيل خان هم ده ته وسپارل او د "شاه وردي خان هژيرجنګ" لقب يې هم ورو باخښه.

ميان غلام شاه په (١١٨٢ هـ) کال په نيرون کي د حيدرآباد کلا جوړه کړه او تر احمدشاهي امر لاندي يې په موفقيت حکومت کاوه، خپل خانوادګی رقيبان يې ټوله مات کړل او د سندهـ سرحدونه يې وساتل، او د ده مملکت د احمدشاهي امپراتورۍ يو مهم جز وو، د احمدشاهي دربار نمايندګان تل د سندهـ په دربار کي موجود وو او د سندهـ وکيل او سفير ګدومل د کندهار په دربار کي ناست وو.

او په دې ډول احمدشاهي دربار په خپل جوار کي د سندهـ اميران جلا، او د بلوڅو د کلات اميران بېل ساتلي وو، او افغاني دربار د دوی د قوت او امارت مرکز وو.

مګر ميان غلام شاه په آخر کي په خپل قوت مغرور سو، او غوښتل يې چي له احمدشاهي درباره څخه سرکښي وکي، ولي چي دغه د احمدشاه بابا د ژوندانه آخر کال وو، او دی د کندهار د کوړك په توبه کي مريض پروت وو، خو په دغه وخت کي ميان غلام شاه د فالج په مرض اخته او د جمادی الاولی په دربيمه په (١١٨٦ هـ) کال مړ سو، او د سندهـ مشرانو د ده زوی محمد سرفراز خان د هغه ځای امير کی، او داسي پيغامونه يې د کندهار دربار ته راولېږل چي د دوی روابط د افغاني شاهنشاهۍ له مرکزه سره وران نه سي.

د کندهار د دربار رجال دغه وخت د شاهنشاه په ناروغي بوخت وو، او دا فرصت هم نه وو چي دوی د نورو ځايو فکر وکي، شاه ولي خان اشرف الوزراء او شهزاده سلېمان د احمدشاه بابا زوی په کندهار کي وو، او تېمور مشر شهزاده په هرات کي حکمراني درلوده، او دا هم نه وه معلومه چي تر احمدشاه وروسته به آيا د ده په اندازه کم لايق زمامدار د افغانستان نصيب سي که يه؟ ځکه چي د افغانستان لويه شهنشاهي په دې وخت کي له نيشاپوره تر سرهنده رسېده، او په دې جمله کي لکه سندهـ غوندي لويي لويي سيمي هم شاملي وې، چي هر ځای جلا زمامداران تر احمدشاهي سلطنت لاندي موجود وو، او دغو يوه قوي اداره او مرکزي غښتلی قوت غوښت.

په داسي حال کي احمدشاه بابا څو مياشتي پس د (١١٨٦ هـ) کار د رجب پر شلمه د توبې په غره کي وفات سو، او د ده لوی زوی شهزاده تېمور له هراته کندهار ته راغی او پر تخت کښېنوست.

کله چي د احمدشاه بابا د وفات او د تېمورشاه د جلوس خبر سندهـ ته ورسېدی نو ميان سراز خان يو سفير مير بهرام خان تالپور د تعزيت لپاره د کندهار دربار ته راولېږی او خپل اطاعت يې د پخوا په ډول د تېمور شاه دربار ته ښکاره کی، د افغانستان نوي پادشاه هم د ميان سرفرازخان په نامه يو شاهي فرمان صادر کی چي د ده امارت په سندهـ کي د افغاني سلطنت تر اثر لاندي ومنل سو، او هم د سندهـ امير ته خلعتونه او د "خدايارخان" لقب د کندهار له درباره ورکړ سو.

په دې ډول د افغاني وروستنيو پادشاهانو روابط د سند د اميرانو

سره دوستانه وو او هرکال به هغو افغاني مرکزي خزانې ته د سندهـ
ماليات راليږل.

او د دغو دووګاونډيو قومونو ويښ هم ښکاپر وو، چي د امير دوست محمد خان تر زمانې پوري لا هم د کندهار له خوا هلته حاکمان مقررېدل او که به کله هلته کم شورښت پيښېدی نو افغاني دربار به د امنيت لپاره د سندهي اميرانو سره کومکونه کول او دې روابطو تر هغه دوام وکی چي په (۱۸۳۹ م) کال د انګرېزانو اوله حمله پر افغانستان باندي د سندهـ او درهٔ بولان له خوا د شاه شجاع په کومك د انډس آرمی په سوقياتو سره شورو سوه.

د احمدشاه بابا سلطنت پر سندهـ باندي کم نوی کار نه وو، بلکي د (۹۰۰ هـ) کال را په دې خوا د سندهـ ادبي او کلتوري روابط د هرات د تېموري کورنۍ له سلطنته سره محکم وو، او کله چي د هرات تېموريانو سلطنت ضعيف سو نو له هراته ډېر علمي او ادبي او کلتوري کاروانونه سندهـ ته ولېږدېدل او د سندهـ د ارغوني او ترخانې او تالپورې شاهانو اصلي وطن هم هرات يا د افغانستان شرقي سيمي وې. نو ځکه د سنده فرهنګي جوړښت داسي راغلی دی چي د هغه ريښې له هراته يا له کندهاره هلته غځېدلي وې او تر اوسه لا هم ډېري غټې افغاني کورنۍ هلته اوسي، چي د دوی نيکه ګان له افغانستانه تللي او افغاني ثقافت يې پکښي جوړ کړی وو[1].

.۱) _ وږمه مجله، ۱۳۵۲ ل کال شپږمه ګڼه، ۱ _ ۵ مخونه))